PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

فرمان الهی

هنگامی که آنها (منافقین) را می بینی، جسم و قیافه آنان تو را در تعجب فرو می برد؛ و اگر سخن بگویند، به سخنانشان گوش فرا می دهی؛ اما گویی چوبهای خشکی هستند که به دیوار تکیه داده شده اند! هر فریادی از هر جا بلند شود (آنرا) برضد خود می پندارند؛ آنها دشمنان واقعی تو هستند، پس از آنان بر حذر باش! خداوند آنها را هلاک کند، چگونه از حق منحرف می شوند؟!

(سورة المنافقون، آیت ۴)

نبوی ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:

له حرامو نه خان وساته چې تولو نه زیات عابد جوړ شې، په قضا او قدر راضی اوسه چې له ټولو نه زیات غني شې، له خپلو ګاونډیانو سره نیکي وکړه چې کامل مؤمن شې. کوم څیز چې خان لپاره خوښوی هغه د بل مسلمان لپاره هم خوښ کړه چې کامل مسلمان شې. ډېره خندا مه کوه چې دا زړه مړ کوي.

(احمد ترمذي)

شهادت | دویم کال، ۵۷ مه ګڼه، | چهار شنبه ۱۳۸۹ هـ ل د غویي ۲۲ مه | د۱۴۳۱ هـ ق د جمادی الاول ۲۸ مه | د ۲۰۱۰ م د می ۱۲

د هیواد استحکام د ولس په یووالی کې مضمر دی

دویمه صفحه

سفر به امریکا و چشم انداز حکومت داری خوب

ترتيبات اتخاذ شده در ترکیب هیات اعزام شده به امریکا تحت ریاست رییس جمهور کرزی، نشان می دهد که دولت افغانستان نسبت به این سفر حساب خاصی باز کرده است. این که این سفر چه دستاوردهای خاص خواهد داشت، در آینده روشن مي شود، اما آن گونه که از قبل مي توان پیش بینی کرد، این است که حد اقل دو موضوع در این سفر مورد توجه خواهد بود. یکي از این دو موضوع حکومت داري خوب و دیګري نیز مذاکره با طالبان می باشد.

ترکیب کمي و کیفي هیات اعزامي افغانستان به واشنگتن این تصور را بوجود آورده است که دولت افغانستان نسبت به نتایج قابل پیش بیني از این سفر دل خوشي زیادي دارد. البته



برخي از کارشناسان به این باور اند که چشم امید بستن به این که این سفر بتواند اوضاع افغانستان را متغیر سازد، خوشبینانه خواهد بود، زیرا اهمیت انګاري اي که از سوي دولت در مورد این سفر صورت مي ګیرد، نیز بیشتر ناشی از سیاست ګذاری های روز مره مي باشد. از آن جایي که دولت افغانستان سیاست دراز مدت در جهت برون رفت کشور از مشکلات ندارد، همواره به این دل مي بندد که اتفاقات در آینده بتواند اوضاع را بهتر سازد. سفر رییس جمهور کرزی به امریکا و برګزاري جرګه مشورتي صلح اتفاقاتي اند که دولت بدان امید بسته و منتظر است که نتایج حاصله از این دو موضوع بتوانند اوضاع را به نفع دولت تغییر دهد. این در حالی است که به دلیل نبود ابتکار عمل و آجنداي از پیش تعیین شده و وابستګی به .....

بقیه در صفحه ۴

له استاد رباني او مولوي عطاء الله لودین پرته د ولسي جرګې ټولو سیاسي شخصیتونو ځانونه کاندید کړي

سرنوشت ورځپاڼي ته د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ولسي جرګې د څو رسمي دفترونو څخه یو شمیر باوري سرچینو ویلي چې د ولسي جرګې یو شمیر مهمو اوسنیو څیرو یو وار بیا راتلونکې نوې ولسي جرګې ته ځانونه کاندید کړي دي.

سرچینه وایي چې په دغه مطرح څېرو کې له استاد برهان الدین رباني او مولوی عطاء الله لودین پرته محمد یونس قانوني، محمد محقق، انجنیر محمد خان، عبدالجبار شلګری، اکبري، سلام راکتي، اسحق ګیلاني او کبیر رنجبر یو وار بیا ځانونه کاندید کړي دي.

که څه هم چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دغه کسانو د کاندیدیدو په اړه په رسمي توګه له څه ویلو ډډه کوي خو دا وایي چې د ولسي جرګې د اوسنیو وکیلانو له ډلې په سلو کې یې ۹۶ یو وار بیا ولسي جرګې ته ځانونه کاندید کړي دي.

د یادونې وړ ده چې ددغه وکیلانو له ډلې، یو شمیر یې د بشري حقونو د ټولنو له خوا په جنګي جنایتونو....

پاتې ٤ مخ

مکررې سهوې ته سهوه نشي ویل کیدې

دریمه صفحه

هیلري کلنټن: د پاکستان ځینو چارواکیو ته د ملا عمر او اسامه ځای ځایګی معلوم دی

واشنګټن، رسنی:

د امریکې د بهرنیو چارو وزیره هیلري کلنټن وایي، چې د پاکستان ځینو چارواکیو ته د ملا عمر او اسامه بن لادن ځای ځایګی معلوم دی.

نوموړې له یوه بهرني تلویزیون چینل سره د مرکې پر مهال وویل، چې اوس امریکا دا نشي زغملی، چې ځینې هیوادونه دې د ترهګرو مرسته وکړي او هغوی دې امریکا ته پر امریکې د برید لپاره ولېږي.

نوموړې وایي، چې د ملا عمر او اسامه بن لادن د ځای ځایګی د معلوماتو لرونکي چارواکي لوړ پوړي نه دي.

هغې وویل، چې امریکا هیله لري، چې د ۱۱ سپتمبر د ملزمانو د نیولو او د قانون منګولو ته د سپارلو په لړ کې باید له موږ سره نوره مرسته هم وشي، ...

پاتې ٤ مخ

ننګرهار:

ولایتي شورا له ولایتي ادارې سره پریکون وکړ!

دننګرهار ولایتي شورا له ولایتي ادارې سره پریکون اعلان کړ دشورا چارواکو ددې پریکون لامل له دوې سره دولایتي ادارې له لورې په چارو کې نه همغږي او ددوې دوړاندیزونو نه منل په ګوته کړل.

دننګرهار دولایتي شورا ریس نصرت الله ارسلا د دوشنبې په ورځ په داسې حال کې چې دولایتي شورا ټول استازي هم موجود و په یوه خبري ناسته کې خبریالانو ته وویل دوې خواوشاه یوه میاشت وړاندې یې له ولایتي ادارې سره دچارو دنه همغږی له امله دغه ادارې ته وړاندیز کړې و چې له دوې سره مرسته ملګرتیا وکړي خو دده په وینا چې ولایتي اداره او په ځانګړې توګه دننګرهار والي په خپله خبره ټینګ دی، ده وویل ولایتي شورا پریکړه کړې چې له ولایتي ادارې سره پریکون وکړي دولایتي شورا ریس وویل دوې به دوه ورځې وروسته یوه ستره ولسي غونډه راوبولي اودهغوې سره تر سلامشورو وروسته به پریکړه کوي چې خپل پریکون ته دوام ورکړي او که دولایتي ادارې پر خلاف پر سوله ییزو لاریونونو پیل وکړي، دولایتي شورا ریس وویل دوې داسې شواهد موندلي چې تر مخه یې دننګرهار ولایت په ځینو دولتي ادارو لکه بریښنا ریاست او ښاروالی کې فساد او درغلي موجوده ده دې وویل که څه هم چې دوی له ولایتي ا دارې سره په دې اړه خبرې کړي خو دارزښت نه ورکولو له امله به دوې دغه اسناد داداري فساد پرخلاف جوړې شوې ادارې ته وسپاري...

پاتې ٤ مخ

د هیواد په شمال کې به ۲۰۰۰ نور امریکایي سرتیري ځای پر ځای شي

پژواک خبري آژانس:

د هیواد په شمال کې مېشت امریکایي خواکونه وایي چې ډېر ژر به په شمال کې ۲۰۰۰ نور امریکایي سرتیري هم ځای پر ځای شي.

د بلخ ولایت په دهدادي ولسوالی کې د شمال زون د ۲۰۹شاهین قول اردو په امریکایي کمپ کې د ۱۱۰لوا قوماندان جنرال برلي سون Burleson د غویي په ۲۰مه، د شمال زون د پولیسو د ۳۰۳پامیر قوماندانی ، له قوماندان جنرال مجتبی پتنګ سره په ګډه خبري ناسته کې خبریالانو ته وویل چې په نږدې راتلونکې کې به په شمالي ولایتونو کې ۲۰۰۰ نور امریکایي سرتیري ځای پر ځای شي.

نږدې دوه میاشتې ...

پاتې ٤ مخ

اوباما: پر حامد کرزي، د نیوکو پر ځای، ګډو اهدافو ته پام وکړئ

واشنګټن، رسنی:

د واشنګټن پوست ورځپاڼي د یکشنبې په ورځ د می په ۹مه، کښلي، چې اوباما د خپلې بهرنۍ پالیسی سترو مشاورینو ته ویلي دي، چې په عامه تبصرو او یادونو کې د افغانستان له جمهور رئیس سره د درناوي وړ چلند وکړي.

جمهور رئیس اوباما د خپلې اداري غړو ته ویلي دي، چې په عامه توګه د کرزي په نسبت د نیوکو پر ځای ګډو هدفونو ته ډېر پام واړوي.

د متحده ایالاتو چارواکو د کرزي د سفر له پیل څخه د مخه وویل، چې امریکا غواړي، له هغه سره په خپلو اړیکو کې "لوړې او ژورې" هواري کړي او د طالبانو ضد جګړې ته ډېر خیر شي.

د متحده ایالاتو او افغانستان د مشرانو تر منځ خبري اترې داسې یو چانس دي،..

پاتې ٤ مخ

سیلاب ها تا حال جان صد تن را در ۱۶ ولایت افغانستان گرفته است

کابل، رسانه ها:

ریاست عمومی مبارزه با حوادث می گوید شمار قربانیان سیلاب‌هاي اخیر کشور به حدود صد نفر رسید. احتمال دارد شمار قربانیان، بیشتر از این باشد، زیرا هنوز از آن تعداد ولسوالي‌هایي که راه‌های شان مسدود است، گزارشي در دست نمي باشد.

عبدالمتین ادراک، رییس اداره ي مبارزه با حوادث، در مورد تعداد قربانیان سیلاب‌هاي اخیر مي گوید: به اساس ارقام رسیده تا حال در حدود ۹۵ نفرجان داده اند، اما زیاد موثق نیست، به خاطری که راه های یک تعداد ولسوالي‌ها هنوز هم مسدود است، ممکن است تعداد قربانیان زیاد باشد و ممکن است نباشد.

در پی بارندگی شدید، و جاري شدن سیلاب در حدود شانزده ولایت کشور، برعلاوه تلفات انساني، ...

بقیه در صفحه ۴

د هلمند ځایی اوسیدونکي له ناامنیو سرټکوي

لاندې یې راولي.

په بریتانیه کې د امنیت او پراختیا نړیوالې شورا په خپل یو رپورټ کې ویلي، چې په مارجه کې حالات لا هم ویره وونکي دي او په سلو کې اته شپېته ځایي اوسیدونکي وایي، چې طالبان به بیا ور وګرځي.

خو د سیمې خلک بیا له دولته ناراضه دي. دوی وایي چې په سیمه کې نا امني ډېرې شوي او دوی یې له ډول ډول ستونزو سره مخ کړي دي.

د افغانستان د کورنیو چارو وزیر حنیف اتمر هم دا مني چې په سیمه کې هسې امنیت چې دوی یې تمه درلوده نه دی ټینګ شوی.

دا اندېښنې په داسې حال کې څرګندېږي، چې د کندهار ولایت اوسیدونکي په دغه ولایت کې له پیلېدونکو پوځي عملیاتو سره مخالفت څرګند کړی دی.

که څه هم د هلمند د مارجې ولسوالی کې د افغان او نړیوالو ځواکونو له پوځي عملیاتو نه شاوخوا یوه میاشت تیرېږي، خو بیا سیمه کړکیچنه بلل کیږي او ځایي اوسیدونکي له نا امنیو سرټکوي. د مارجې ولسوالی تر دې مخکې د طالبانو تر ولکې لاندې وه، خو افغان او نړیوال ځواکونه وتوانیدل، چې طالبان له سیمې وشړي او د دولت تر ولکې

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

په افغانستان کې سوله د ګردي نړۍ په ګټه ده

له دې حقیقت نه سترګې نشي پټیدلې چې سوله د افغانانو ستر ضرورت دی، په هغه اولس کې چې د سولې ژوند نه وي د آرام او هوسا ژوند مخ نشي لیدلې، نه په اقتصادي ډګر کې وده کولې شي او نه هم په سیاسي، تعلیمي، صحي، ساینسي، عدالتي، اجتماعي او د ژوند په نورو مهمو ډګرونو کې.

نو ځکه د افغانستان د مسلمان اولس د اکثریت وګړو یواځینی غوښتنه همدا ده چې په افغانستان کې دې د سولې او پخلاینې پروسه پرمخ ولاړه شي.

دولت هم د سولې ملي مشورتی جرګه جوړه کړیده او ددولت مخالفین هم له سولې څخه مخالفت نه کوي دواړه لوري غواړي چې سوله دې وشي، خو له بده مرغه ددغو غوښتنو ترڅنګ بیا هم د سولې پروسه کومه مثبته نتیجه تراوسه پورې نه ده ورکړې. آیا په دې کې د اخلاص کمی دی او که نور داسې مجبوریتونه او بهرني مداخلی دي چې د سولې لاره یې تراوسه ډبه کړیده؟

خبره که هر څه وي وي به دهغی په باره کې څه ویل نه غواړو البته دا ضروري ده چې له دغو حالاتو نه د وتلو لپاره منظم او له اخلاصه ډک کوښښ پکار دی. که واقعا اخلاص او کلک تصمیم موجود وي نو له لوی نه لوی مشکل هم ختمیدای شي او په تاریخ کې داسې کوم مشکل نه دی پیښ شوی چې حل یې نه وي وتلې.

په افغانستان کې روان مشکل هم حل لري خو شرط پکې دادی چې ټولې لوري یواځې د خپلی خاورې، ملت او عقیدې ګټه په نظر کې ونیسي نه خپلې ذاتي او د نورو هیوادو ګټې. که چېرته د افغانستان د مجموعي ګټو پر ځای د نورو هیوادو ګټې او یا هم د هغوی فرمایش په نظر کې ونیول شي نو په افغانستان کې د سولې او روغی جوړی هیڅ چانس په لاس نشي راتلی ځکه چې د نورو هیوادو خپلې خپلې ګټې او فرمایشونه دي، هغوی کله هم نه غواړي چې په افغانستان کې دهغوی ګټې زیان منې شي، هغوی ته د افغانستان د استحکام پر ځای خپل استحکام او خپلې ګټې مهمې دي.

د مثال په توګه وګورئ چې هندوستان او ځیني نور هیوادونه په افغانستان کې له مخالفینو سره روغه جوړه نه منې بلکې دهغوی غوښتنه داده چې له هغوی سره جګړه ترهغی پرمخ ولاړ شي تر څو پورې چې هغوی له بشپړی ماتی سره نه وي مخامخ شوي. پداسې حال کې چې تر اوسه ددې جګړې یو لوری هم ګټونکی ندی. او نه هم راتلونکی لپاره ددې چانس تر سترګو کیږي چې یوه لوری دی بشپړ بری ترلاسه کړي. آخر داسې یو جنګ چې د تیرو اتو کلو راهیسې ګټونکی نه لري څنګه کیدلې شي چې نور هم ورته دوام ورکړی شي.

لنډه دا چې د افغانستان په لانجه کې د مختلفو هیوادو خپل خپل نظرونه دي چې د خپلو ګټو تر سیوری لاندې وړاندې کوي، څرنګه چې په افغانستان کې د جګړی اور پخپله افغانان ستي کوي او دهغوی ژوند بربادوي نو ځکه ځیني بهرنی هیوادونه په مفتو کې ګټه اوچتول غواړي، که د افغانانو په ځیر دهغوی ژوند هم د اور په لمبو کې تیریدای او یا هم دهغوی د هیواد استحکام ته نقصان رسیدای نو هغوی به کله هم په افغانستان کې د جګړې د جاري ساتلو خبره نه وه کړې.

وایي چې یواځې هغه ځای سوځیږي پر کوم ځای چې اور بل وي، کوم درد او څړیکه چې افغانان د جګړې له اوره محسوسوی نور یې چېرته محسوسولې شي، دهغوی په هیواد کې چې ورکوټی غوندې مشکل هم پیدا شي د حل لپاره یې شپه ورځ یوه او له هغه نه خلاصون ترلاسه کوي. هغه هیوادونه چې له افغانستان سره ددوستی سینی ډبوي هغوی ته پکار دي چې په افغانستان کې د روغی جوړې او سولې پر وړاندی خنډ جوړ نکړي بلکې د سولې په راوستو کې دی ورسره بشپړه همکاري وکړي ځکه چې له افغانانو سره د دوستانو تر ټولو لویه ښیګنه داده چې د افغانانو پر ټپونو د مرهم پټی کیږدي او د جنګ پر ځای د سولې فضا ورته برابره کړي. افغانستان یواځې په هغه صورت کې د ګاونډیانو په شمول د نورو دوستو هیوادو په ګټه تمامیدلې شي چې افغانستان د امن او ثبات خاوند شي او ټول اولس په ګډه واحد تصمیم ونیسي. نو ځکه په افغانستان کې د سولی او ثبات د راوستو او د یو پیاوړی حکومت د قیام لپاره د افغانانو ترڅنګ د ګاونډیو او د نړۍ ټولو مهذبو هیوادو ته پکار دي چې په افغانستان کې د امن او ثبات د راوستو لپاره نه یواځې دا چې د روغی جوړی د پروسی کلکه ملاتړ وکړي بلکې ددغې پروسی د بریالیتوب لپاره خپلې هلې ځلې هم ونه سپموي، تر څو افغانستان پخپلو پښو ودریږي او بل څوک یې د خپلې ګټی لپاره د استعمالولو جرئت ونکړي شي، لنډه دا چې یو خپلواک او پخپلو پښو ولاړ افغانستان د ګردی نړۍ، په ځانګړی ډول د ټولی آسیا په ګټه ده، که په افغانستان کې امن وي نو ټوله آسیا او نړۍ به په امن وي او که په افغانستان کې فساد وي نو په ټوله نړۍ او آسیا کې به هم د فساد او ویری تورې لوخړی خورې وي.

د هیواد استحکام د ولس په یووالی کې مضمر دی

عبیدالله صافی

هیواد د بدن مثال لري او وګړي یې دهغه مختلف غړي دي چې هر یو پخپل ځای لوي اهمیت او ښکلا لري، بدن ترهغه سالم او غښتلی نشي پاتی کیدلې تر څو چې غړي یې سالم او ټول په کار او فعالیت بوخت نه وي.

هر هیواد د خپلو وګړو په اتفاق، یووالي او سالم فعالیت په صورت کې مستحکم، غښتلې او ښکلې پاتې کیدلې شي، که چېرته د یو هیواد وګړي پخپلو منځو کې بی اتفاقه او جګړو کې بوخت وي نو هغه هیواد کله هم د پرمختګ، خوشالي او امن مخ نشي لیدلې، د ژوند له خوږو نه محروم او هره شیبه په پریشانی او غم کې تیروي. ددې ښکاره مثال افغانستان دی چې د تیرو دریو لسیزو راهیسې د هر ډول پرمختګ، خوشالي او امن څخه محروم دی. ددې ستره او بنسټیزه وجه داده چې د افغانستان اولس

پخپلو منځو کې یو موټی او یو غږ نه دي، یو شعار، یو دریځ او یوه لائحه نه لري. څوک په یوه لاره روان دی او څوک په بله لاره، څوک یو شی غواړي او څوک بل څه، ددوی دا اختلاف تر دې کچه رسیدلې چې د یو بل د محوه کولو له پاره وسلو ته لاس کړې او هر یو کوښښ کوي چې خپل مخالفین د ټوپک، توپ، بم او باروتو په زور له منځه یوسي. ښکاره خبره ده چې د یو هیواد د وګړو ترمنځ وسلواله جګړه له تباهي او هلاکت پرته هیڅ یوه مسئله نشي حلولې او نه هم ددې امکان شته چې د وسلو استعمال دی د یو هیواد د وګړو په ګټه تمام شي.

جګړه او د وسلو استعمال د یوې عارضي او وختي جنون نتیجه خو کیدلې شي مګر همیشه لپاره هیڅوک د جنګ او جګړی لیونتوب نشي کولې او بالاخره د اصل حقیقت په درک کولو سره د امن لاره خپلوي.

د اسلام سپیڅلي دین انسانیت ته د امن پیغام ورکوي او ټول زور یې په دې اچولی دی چې د ځمکې په سر د امن او سولې حکمراني وي او هر بشر د امن په فضاء کې ژوند ترسره کړي.

الله تعالی پخپل کتاب قرآن کریم کې خپلو هغو بنده ګانو ته چې د الله تعالی قانون مني د سلامتی لارې ښودلي دي او په دې خبره یې تاکید کړی دی چې د اسلام دین د سلامتی او سولې دین دی.

په قرآن کریم کې د امن او سلامتي یوه څرګند قانون آیت: ((لا تَظلِمون ولا تُظلَمون)) (البقره: ۲۷۹) کې ور کړیدي، یعنې د اسلام دین دا غواړي چې یو څوک دی نه پخپله پر چا تیری وکړي او نه دی هم د چا د ظلم ښکار شي.

د الله تعالی له دې ابدي قانون څخه د امن دا اصول ترلاسه کیږي چې چېرته ظلم او تیرې وي هلته امن نشي راتلې او چېرته چې امن قایم وي هلته بیا ظلم او تیرې ځای نه لري. د ظلم او تیرې ډېر ډولونه دي، تیرې په ژبه هم کیدلې شي او په لاس او قلم سره هم، د مال او دولت له لاری هم کیدلې شي، اقتدار او زور له لاری هم.

د ظلم ټول ډولونه د اسلام په سپیڅلی دین کې حرام دي او الله تعالی چې په خپل ازلي کتاب قرآن کریم کې د امن کوم معیار مقرر کړیدی دا ټول دهغه په خلاف دی.

په یوه ټولنه کې امن او سوله هله خپلې جرړې مضبوطولې شي چې د ظلم او تیرې توری وریځې ختمې شي. په هره ټولنه کې چې ظلم او تیري زیات شي دهغوی د مخنیوی لپاره وسله اوچتیږي او چېرته چې وسله اوچته شي هلته بیا د امن او سکون جنازه اوځي.

په دې کې هیڅ شک نشته چې په افغانستان کې له کومې ورځې نه پخپل منځي جګړو کې وسله اوچته شوې ده ددې تر شا پخپلو منځونو کې د ظلم او تیرې ستر لاس دی، همدا د ظلم ناروا جذبه ده چې په افغانستان کې د جنګونو اوربل شوې دی.

الله تعالی د اسلام په ابدي قانون کې د هرچا او دهر څه حقوق بیان کړیدي داسې کومه ګوښه او ځانګه یې نه ده پریښې چې دهغې په باره کې ابهام موجود وي. حق هم ښکاره دی او باطل هم، خو له بده مرغه د ډېرو وګړو ایماني جذبه او اخلاقي معیار دومره کمزوری دی چې باطل ته د باطل ویلو او د حق په وړاندی د سر ټیټولو جرئت نشي کولې او خپل ټول مالي او ځاني قوت د باطل د تحقق لپاره مصرفوي، څرګنده خبره ده چې تر څو له دغسی کړنلاری څخه لاس وانخستل شي امن نشي راتلی او د حق او باطل ترمنځ دا جګړه به د حق تر تحققه پورې ورانه وي.

له تاریخي حقایقو څخه دا ثابته شوی ده چې د باطل پلویانو تل لپاره د حق په وړاندی ماته خوړلی او حق برلاسې شوی دی. نو ځکه افغان مسلمان اولس ته پکار دي چې هر یو خپل سر پخپل ګریوان کې ښکته او په دې خبره غور وکړي چې هغه خپل مقصد ته د رسیدو لپاره چې وسلې ته لاس کړی ایا هغه د اسلام په سپیڅلي قانون کې جایز هم دی او که نه؟ آیا خپل منځي جګړې او تفرقې د افغانانو او د هیواد په ګټه دي او که د پردیو په ګټه؟ تر دی دمه چې څومره خپل منځي جګړې تیرې شویدي آیا ددې ټولو ګټه افغانانو ته رسیدلې او که پردیو ته؟ ښکاره خبره ده چې ددې ټوله ګټه پردیو ته رسیدلې ده او افغانان په سلو کې سل له تاوان سره مخامخ شویدي.

دا چې زموږ خپل منځي جګړې زموږ د خاورې د استقلال او استحکام لپاره هلاکوونکی زهر جوړیږي او د وخت په تیریدو سره زموږ د خاوری او قوم دمنځه وړلو باعث ګرځي نو بیا دداسی جګړې جاري ساتل له دی پرته بل څه معنی درلودلې شي چې موږ پخپل لاس د خپل هیواد او د خپل ځان دښمنان یو.

که موږ واقعاً غواړو چې د یو آزاد او خپلواک قام په توګه سرلوړی ژوند تیر کړو، خپل هیواد ته استحکام او استقلال ور کړو نو لدې پرته بله لاره نه لرو چې خپل منځي ناروا اختلافاتو ته خاتمه ور کړو، د ظلم او تیرې لاره پریږدو، د الله جل جلاله ددین بشپړ پیروي وکړو پخپلو کې یو موټي او یو غږ شو، هر یو خپل ایماني او افغاني مسؤولیت په صحیح توګه ترسره کړو او پخپلو قانوني دایرو کې سالم فعالیت ته ملا وتړو، ځکه چې زموږ د هر افغان سالم فعالیت د هیواد او خاورې د مجموعي استحکام باعث ګرځي او یو مستحکم هیواد کولې شي چې د هر دښمن په خلاف کلک مقاومت وکړي او خپل بقا وساتي.

که الله مکړه موږ افغانان خپل منځي اختلاف د روغې جوړې پر ځای د جنګ له لاری د حلولو کوښښ وکړو او له خپلې ټاکلی شرعي دایرې نه دباندی فعالیت ته دوام ورکړو نو موږ پخپله خپل هیواد لنډی بوچې کوو او په دې توګه د پردیو د غلامی حلقی پخپلو غاړو کې آچوو.

مکررې سهوې ته سهوه نشي ويل کيدې

محمد خلیل

ناټو ځواکونو پرواځې په یو میاشت کې لسګونه بې ګناه افغانان پخپلو سرو وینو کې ولمبول، د بیلګې په توګه د ورې په ۱۵ نیټه د هلمند ولایت د ګرشک په ولسوالی کې ددوه میرمنو او یو ماشوم په ګډون څلور ملکي وګړي یې ووژل، څو ورځې نه وې تیرې شوې چې په کندهار کې د سورلیو پر یو بس یې ناتارې دزی وکړې چې پکې سواره ۲۲ تنه ځای پر ځای شهیدان او ټپیان شول، د ورې په ۳۱ مه ناټو ځواکونو د خوست ولایت د ګوربزو په ولسوالي کې په یوه کرولا ډوله موټر کې سپاره د ښوونځی څلور زده کوونکی ووژل د ثور په میاشت کې فرانسوي عسکرو په تګاب کې د څلورو بې ګناه ولسي وګړو پر وژل. کیدو اقرار وکړ، یوه اونی مخکې په زابل کې د ایساف ځواکونو په یوه کرولا موټر ډزې وکړې او پکې سواره یوه مور له خپلو دوه ماشومانو سره یو ځای یې په شهادت ورسوله، همدغه راز ناټو ځواکونه د ننګرهار د سرخرود په ولسوالی کې د پارلمان ښځینه غړې صفیه صدیقی په کور ننوتل او دهغی ځوان اخښی یې د ټوپکو په ګولیو غلبیل غلبیل کړ، دا هغه حقایق دي چې د آزادی او بې بې سي راډیو ترڅنګ په نورو رسنیو کې خپاره شویدي.

له کومې ورځې نه چې امریکایي او ناټو ځواکونه افغانستان ته راغلي دي له همغی ورځې نه د بې ګناه ملکي وګړو وژنه او کورونو ته ننوتل دوام لري داسې ورځ نشته چې د دوی دلاسه د افغانانو وینه توی نه شي او یا هم ټپي او په لاسونو کې زولنې وانچول شي. د ناټو او امریکایي ځواکونو دغه کړنی په دې خبره ګواهي ورکوي چې هغوی پخپله افغانانو ته ددې خبرې ثبوت وړاندې کوي چې هغوی بهرنی پوځیان اشغالګر او خپله خاوره اشغال شوې ګڼي.

آخر په داسې یو حالت کې چې نه د بی ګناه اولسي وګړو ژوند په امن کې دی او نه هم دهغوی عزت، نه یې کورونه د بهرنیو ځواکونو له تالاشي څخه محفوظ دي او نه هم په لارو، کوڅو او سړکونو کې د بهرنیو ځواکونو له ناڅاپي ډزو څخه مامون دي هغوی څنګه په دې خبره یقین کولې شي چې بهرني ځواکونه دهغوی د امنیت د خوندیتوب لپاره راغلي دي؟

آخر د افغانستان ولس تر څو د بهرنیو ځواکونو دغه وژنه د هغوی په خطا او سهوه محموله کړي، خطا چې له دوه درې ځلو نه واوړي هغه ته بیا خطا نه بلکې جرم او تیرې ویل کیږي. هیڅوک دا نه شي زغملی چې کلونه کلونه دچا د خطاګانو په وړاندې خپلې شونډې وګنډي او د خطا تر نامه لاندې مړ کیدو ته غاړه کیږدي.

د افغانستان ګرد وګړي په دې خبره یوه خوله دي چې په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو له کړنی څخه د باداري څرګند تصویر مخې ته راځي، که چیرته هغوی ته افغانان خپل غلامان او خپل ځانو نه باداران نه ښکاره کیدل نو په پرله پسې توګه به د بې ګناه افغانانو وینه په دومره آسانی سره نه تویول، آخر له مسافرو نه ډک په سرویس باندې ډزی کول او ټول ناست سورلی د مرمیو په باران کې د غلبیل غلبیل کولو ناروا عمل ته څنګه د خطا نوم ورکول کیدلې شي؟ د خطا بهانه به یو ځل، دوه ځل او درې ځله ومنل شي مګر هره ورځ د انسانانو د وژلو دغه ناروا عمل ته د خطا او سهوی رنګ ورکول هیڅوک نشي منلی.

متل دی چې شپه که تیاره ده منې په شمار دي، که په افغانستان کې ایساف ځواکونه د بې ګناه اولسي وګړو وژنی ته څومره د خطا او سهوی نوم ورکړي افغانان وربانډی پوهیږي چې دا پر افغانانو ملنډې او دهغوی پرونیو استهزا ده.

په پرله پسی ډول د بې ګناه انسانانو وژل او بیا وروسته د سهوی تر عنوان لاندی له حکومت او دهغوی له وارثینو څخه بخښنه غوښتل په حقیقت کې د افغانانو پر زخمونو مالګی او مرچکی دوړه ول دي.

د سورلی په موټرو ړندی ډزې کول او د هغوی د ټولی سورلی له وژلو نه وروسته هغه په خطا او سهو محمولول څکه د منلو نه دی چې د شک په صورت کې د خپل ځان د حفاظت په خاطر د سورلیو د وژلو پر ځای د موټر یا د بس ټیرونه یې هم په ډزو پنچرولې شول او لدی لارې کولی شوه چې له مشکوک خطر نه ځانونه وژغوري، مګر هغوی ته د افغانانو وینه دومره سپکه ښکاري چې هسې مطلق وهم او شک په وجه هم د مسؤولیت له احساس پرته دهغوی وینې تویوي او دمرګ کومې ته ور دننه کوي.

د امریکایي او ناټو ځواکونه ددغه ناروا عمل دوه ډوله توجیه کیدلې شي یو دا چې دغو ځواکونو په افغانستان کې د برې چانس له لاسه ورکړې دی او غواړي چې د داسې اعمالو په ترسره کولو د خپل انتقام اور سړه کړي، او یا دا چې هغوی افغانان خپل غلامان او خاوره یې خپل اشغالي سیمه ګڼي نو څکه د هیڅ ډول مسؤولیت احساس نه کوي خبره چې هر څنګه وي، وي به، خو بهرنی ځواکونه دی دا حقیقت په پام کې ونیسی چې نور د افغانانو د صبر کاسه ډکه شویده، هر لورې د قهر او غصې څپې تاندی شویدي، که دوی خپل له دغه غیر مسؤولانه سلوک او کړنی څخه لاس په سر نشي نو هغه ورځ لیری نه ده چې د افغانستان لویشت لویشت ځمکه دهغوی په خلاف د جنګ په مورچل بدل شي.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله "کامه وال"

پخوانی مذهب: عیسویت
اسلامی نوم: عامر علی داود
مملکت: انګلستان

د انسان د پیدا کیدو مقصد مې په قرآن کې ومونده

عامر علی داود د اسلام منلو وجوهات داسې بیانوي: زه د یو عیسوي کورنی غړی وم خو زما نیکه پیدایشی عیسایی نه و هغه د برهمن د اوچتي قبیلې غړی و کله چې انګریزانو هندوستان ونیوه نو زما نیکه عیسایی شو او پلار مې هم پدې مذهب شو، زه هم له وړوکوالي نه د مذهب علاقمند وم او د مذهبی کتابونو لوستلو ذوق زما په رګ رګ کې ننه وتې وه همدا علت وه چې په لږ فراغت کې به مې هم کتاب ملګری وه او عیسویت زما د لوستلو ځانګړی موضوع وه خو د عیسویت دې لوست زما په ذهن کې عجیب و غریب سوالونه پیدا کول، د بیلګی په توګه په یو کې درې او په دریو کې یو، دا فلسفه زما له ذهن نه پورته وه د عیسویت د نامورو علماؤ تقریرونه مې واوریدل خو زما زړه یې مطمئن نکړ بله دا چې زه به د محبت خبرو خبرو ډېر خوړولم چې دوی به کولی څکه ما هغه څه هم لیدل چې عیسویانو په آسیا او افریقا کې کول نو ما ویل آیا محبت همدې ته وایي چې دوی یې کوي؟ دې خبری هم ډېر پریشانه کړی وم چې د انسان د پیدا کیدو مقصد څه دی؟ ددې سوال د ځواب پیدا کولو لپاره مې زرګونه صفحې ولوستې په سلګونو لیکچرونه مې واوریدل او ډېرې شپې مې ددې ځواب پیدا کیدو ته رنې کړې خو عیسویت دې مهم سوال ته ځواب ونه وایه په پوره دقت مې د اسلام مطالعه شروع کړه د مطالعی له پیله مې د سوالو ځوابونه ترلاسه کول قرآن کریم فرمایی کله چې حضرت آدم علیه السلام پیدا شو نو فرښتو ته حکم وشو چې آدم علیه السلام ته سجده وکړی لدې آیات نه دا معلومیږی چې الله جل جلاله ته تر ټولو غوره عبادت سجده کول دي کله چې یو داسې نوراني مخلوق ته د سجدی حکم کوي نو انسانان خو باید د خپل رب په وړاندې سجده وکړی د قرآن کریم مطالعی زما د فکر ډېرې پرېشانی ختمې کړې او په انجیل کې ضد و نقیض خبرې ماته ښکاره شوی او دا خبره هم څرګنده شوه چې انجیل او زبور د زیاتې لاسوهنې ښکار شوی او اوس د انسانیت د لارښوونې وړ نه دي بله دا چې د انجیل د وینا مطابق حضرت عیسی علیه السلام واده نه دی کړی نو پیروان یې په کوم دلیل واده کوي، دویم دا چې حضرت عیسی د اتو کالو وه چې سنت شو او عیسویان دا کار نه کوي. د قرآن تر مطالعی وروسته مې د اسلام په هکله نور زیات کتابونه ولوستل او زما دا خیال په پوخ یقین بدل شو چې د قرآن او اسلام پیغام فطري، مکمل او افاقي دی، ددې پیغام د ټول انسانیت لپاره دی او د انسانیت ټول کړه وړه په خپله غېږه کې رانغاړي او دا خبره د حق الیقین تر حده پخه شوه چې د عقیدې له پلوه اسلام د نړی تر ټولو غوره دین دی ما د اسلام او عیسویت په هکله خپل نظریات څو مسؤولو پادریانو ته وړاندې کړل او دا مې ورته وویل چې تاسو ولې خلک دوکه کوئ او دا خبره ولې نه کوئ چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله ریښتونی پیغمبر دي زما په خبرو به هغوی په قهر شول خو د یو معقول ځواب په ورکولو کې به پاتې راتلل دا وخت ما د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه د ملګرو د ژوند په هکله مطالعه کوله.

دې مطالعی زما د ذهن او سترګو پاتې پردې هم لرې کړې ما دا وګڼله چې که چېرې له دې پاکې او مقدسی قافلی پاتې شم نو د ګمراهی په مرګ به مړ شم نو پخه اراده مې وکړه چې د هغه قافلې نه به ولې وروسته پاتې کیږم چې په خپله غیږه کې د حضرت عمر رضی الله عنه او صلاح الدین ایوبی په څېر خلک روزلي دی او منونکی کې یې په هره پیر کې تر ټولو غوره خلک دي زه پدې وخت کې د یوې نااشنا پیښې سره مخ شوم هغه دا چې زما لور په یو عیسوي مکتب کې زده کړه کوله هلته مسلمانو انجونو هم زده کړه کوله په ټولګي کې د مذهبي ساعت پر وخت دهغوی استازې وویل عیسویانې دي ګر چې ته لاړی شي خو زما لور صبرینه عالیه په څوکی ناسته پاتې شوه، استازې وپوښتل ته ولې ګرجې ته نه یې تللې نو هغې ځواب ورکړ مور مسلمانان یو ددې ځواب په اوریدو عیسوی استازه حیرانه شوه د مکتب سرمعلمې ماته دهغی د خبرو خبر راکړ زه هم ددې خبر په اوریدو حیران شوم خو ما هغوی ته وویل دا زما د لور خپله پریکړه ده، خو یو دوه کاله وروسته دا زموږ د ټولې کورنی خبره شوه ما هم اسلام ومانه او زما ښځی او اولادونو هم اسلام ومانه، موږ ټول د الله جل جلاله شکرګزار یو چې دومره لویه نیکبختي یې زموږ په برخه کړه.

شهادت اوونيزه
خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتياز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله کامه وال
مرستيال: عبدالخليل (محمد خليل)
اړيکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

د افغان بنديانو د اعدام انګيزه څه ده؟

محمد حسن حقيار

په ګاونډي هيواد ايران کې داخوندانو په لاس دافغانانوسياسي ډله ييز اعدام او له اعدام شويو افغانانو څخه دبدن دغړيو وېستل د افغاني او ايراني رسنيو ترټولو توده موضوع ده . داموضوع هغه وخت ډېره توده شوه او دافغانانو احساسات ورسره راوپارېدل چې په ولسي جرګه کې دهرات يو تن استازي خبر ورکړ چې په ايران کې شاوخوا شپږ زره افغانان بنديان دي او ددې شپږ زرو بنديانو له جملې څخه ايران درې زره تنه پر مرګ محکوم کړي دي.

ددې وکيل خبره هغه وخت ذهنونو ته ښه پرېوتله چې له ايران څخه دافغانستان لوېديځو ولاياتو هرات اونيمروز ته په دوه ورځو کې د۴۵ تنو اعدام شويو افغانانو جسدونه راوړل شول.

که څه هم ايران دا نه مني چې دوی دې درې زره تنه افغانان پر مرګ محکوم کړي وي او يا دې په دوه ورځو کې افغانستان ته د۴۵ تنو اعدام شويو افغانانو جسدونه راوړل شوي وي خو عيني کتونکي داشمېر او داپېښې تائيدوي.

دايران په زندان کې پروت يو افغان په پټه دټيليفون له لارې خپلو دوستانو او څينو رسنيو ته وويل چې ايراني اخوندان دايران له نورو زندانونو څخه پرمرګ محکوم زندانيان دافغانستان سرحد ته نږدې دتيبات زندان ته راولي دلته پرې له ډېرو درنو کارونو له ترسره کولو وروسته يې وژني او بيا يې مړي افغانستان ته اړوي.

ايرانيان که څه هم داشمېره نه مني خو وايي چې پرمرګ محکوم کسان هغه خلک دي چې په ايران کې دنشه ييزو په قاچاق او نورو بېلابېلو جرمونو کې لاس لري.

ولسي جرګې ددې موضوع دڅېړنې او دلا ډېرو ومعلوماتو په خاطر ايران ته يوپلاوی ولېږه . ددې جرګې يوه غړې صبرينا ثاقب چې پدې وروستيو کې له ايران څخه راستنه شوې وايي چې دافغانانو ټولې اندېښنې پر ځای دي او آن دوی ته له بندي افغانانوسره دتش کتلو اجازه هم ورنکړل شوه.

افغان حکومت دځپل هميشني خوی له مخې پدې اړه ډېر ساړه اقدامات کوي . دافغانستان دبهرنيو چارو وزارت خو ترډېره وخته چوپ وو او چې کله يې دولس او دځېرونو دفشار له کبله خوله خلاصه کړه نو دايران دريځ يې خپل کړ او يوازې ددرې تنو افغانانو اعدام يې تائيد کړ.

ايران دافغانستان لوېديځ ته پروت ګاونډی هېواد دی چې له افغانستان سره ۹۳۶ کيلو متره اوږده پوله لري . دا ګاونډی د څينو نورو ګاونډيانو په څېر دا دوه دېرش کاله دافغانستان په کورنيو چارو کې لاس وهي ، دوی دلته قومي ، مذهبي او ژبنی تعصب راپاروي.

دافغانستان قومي ، سياسي مذهبي او جغرافيوي اناتومي دځان په ګټه بدلول او په اسلامي نړۍ کې پان شيعيزم غواړي.

دې ګاونډي چې ځانته يې دجمهوري اسلامي ټاپېل هم غوره کړی په افغانستان کې خپل هم مذهبه لړکی دومره حمايه کړې چې اوس ترې يو لوی قوت جوړ شوی دی.

که چا دمحرم د مياشتې په لومړۍ ...يزه کې کابل ليدلی وي نو له شک پرته چې د کربلا او يا قم ګومان به يې پرې کړی وي.

زه دلته دايران پر لاس وه... به ... کوم غواړم په ايران کې دځ... ... محکومو هغو افغانانو ورونو غږ ت... ... هره شېبه ددار دپړي او له اعدام وروسته دځپل بدن دغړيو دوېستلو انتظار کوي دافغان حکومت او نړيوالې ټولنې پام راواړوم.

اوس دلته په افغانستان کې دامريکا له ملاترړه برخمن نظام حاکم دی او په دې هېواد کې دامريکا تر مشرۍ لاندې دشاوخوا ۴۸ هېوادونو پوځيان مېشت دي.

ايران خپل تاريخي دښمن امريکا ترځپلې زنې لاندې ويني ايران پدې خاطر هم پر افغانانو ډېر فشار راولي چې امريکا ته زور وروښيي او دځپلې اتومي دوسيې په اړه ترې حق السکوت واخلي .

کله افغانان ډله ييز اعداموي ، کله يې ورته کورونه سوځوي ، کله يې له څو پوړيزو ودانيو لاندې راغورځوي او کله نورې درنې سزاګانې ور کوي.

که څه هم ايران او امريکا په ښکاره له يوبل سره ددښمنۍ دعوه کوي خوحالات داښيي چې دافغانستان او عراق په اړه بيادې پيشو او موږک اتحاد کړی او ددوی ترمنځ داسې يو پټ تړون شته چې امريکا به هم په عراق او هم په افغانستان کې شيعه ډلې واک ته رسوي او ايران به يې په مقابل کې پر اشغال سترګې پټوي .

ايراني چارواکي دومره سپين سترګي او بې باکه دي چې آن دافغان وزيرانو پرووړاندې هم ديپلوماتيک اخلاق نه مراعاتوي ، تېره شپه به مو دافغانستان دبهرنيو چارو دوزير پرووړاندې دايران دسفير بې بې باکانه ناسته او له بې تفاوتی ډک چلند ليدلی وي.

همدانن مې واورېدل چې ايراني مقاماتو په تهران کې هغه افغان سفير چې څو کاله په ايران کې د کډوال په توګه پاتې شوی او ښه ډېر دايران تراغيز لاندې هم دی دبهرنيوچارو وزارت ته ورغوښتی و او په اصطلاح په دې ګناه يې پرې غوږونه تاو کړل چې افغانان ولې دځپلو هغو اعدام شويو ورونو پوښتنه کوي چې ايرانيانو بې لدې چې له ځانه ددفاع ، او يا دمدافع وکيل حق ورکړي اعدام کړي دي.

دلته نو سړي ته هغه متل وریاد شي چې ((بګيرش که نګيرت))

ايراني مقامات وايي چې افغاني رسنۍ کواکې په دوی پسې ناوړه پروپاګند کوي او دوی هيڅاته هم بې ګنا ه سزا نه ور کوي.

خو که واقعيت ته سړی وګوري همدااوس په کابل ، هرات ،باميانو دای کندي او نورو هغو سيمو کې چې څه ناڅه هزاره ګان پکې ژوند کوي لسګونه اخبارونه ، مجلې راديوګانې او تلويزيونونه دتهران په لګښت خپرېږي ، او آن دافغانستان په پارلمان کې هم ددوی جاسوسان په ښکاره ترې دفاع کوي .

ايران پوهېږي چې دافغانستان تشکيلاتي جوړښت کې ګڼ جاسوسان لري او چې کله هم څوک پرې نيوکه وکړي نو هملته ځای پرځای يې خواب اوري.

اوس خو خبره دې ته حدته ورسېده چې هرڅوک پوهېږي له افغان بنديانو سره حقوقي چلند نه ، بلکې سياسي چلند کېږي

زموږ غوښتنه له افغان دولت ، نړيوالې ټولنې ، دبشر دحقوقو له دعوه دارانو څخه داده چې ددې مظلومو او بې اسرې افغانانو دډله ييزو سياسي اعدامونو مخه ونيسي.

که ايټالويان په دوه ورځو کې له افغانستان څخه خپل بندي ډاکټران وېستلی او دماستروجياکوموپرسر افغان حکومت ته کرښه راکاږلی شي نو ايا افغان حکومت نلري .؟

افغان حکومت بايد پرېکنده دريځ ونيسي کنزروالته (محافظه کارانه)دريځونه بې له دې چې سپين سترګو ته نور هم جرئت ورکړي بله کومه پايله نلري.

که ايران ، امريکا څوروي او که امريکا تهران ته دسيسې جوړوي نو مظلوم او در په دره افغانان بايد دځپلو شومو موخو لپاره دقرباني پسونه نکړي او نه افغانستان دځپلو سياليو ډګر وګرځوي .

سفر به امريکا و چشم انداز ...

نتايج آني، نمي توان به نتايج قابل پيش بيني از سفر هيات تحت رياست آقاي کرزي به امريکا و يا جرگه بعد از آن دل بست.

يکي از مسايلي که به گفته داکتر زلمي رسول، وزير امور خارجه در اين سفر به آن پرداخته خواهد شد، بازنگری "قرارداد استراتژيک" ميان امريکا و افغانستان است که در سال ۲۰۰۵ ميلادی به امضا رسيده است. در کنار اين موضوع، مساله مصالحه با طالبان، زمينه سازي توانمندي نيروهاي دولتي براي گرفتن مسوولیت هاي امنيتي از ديگر موضوعات قابل بحث خواهد بود.

در اين ميان يکي از مسايلي که مي تواند قابل توجه باشد، اين است که در دوره دوم رياست جمهوري آقاي کرزي، مقامات امريکايي بر مساله حکومت داري خوب اصرار زيادي دارند. حتي وقتي از عمليات در قندهار نيز صحبت مي شود، در باره ايجاد حکومت داري خوب در اين ولايت نيز تاکيد صورت مى گيرد. اين نشان مى دهد که مقامات امريکايي در تلاش مي باشند تا اجراي حکومت داري خوب را به حکومت تحت رهبري آقاي کرزي قبول نمايند.

آنچه به حيث يک پرسش عمده وجود دارد اين است که آيا اگر آقاي کرزي در سفر به امريکا به سران کاخ سفيد وعده دهد که حکومت داري خوب را در افغانستان به اجرا در مي آورد، اما آيا در باز گشت به افغانستان به محقق ساختن اين وعده قادر خواهد بود يا قادر خواهد شد؟ به نظر مي رسد ارايه جواب اطميناني براي اين پرسش کار ساده و آساني نمى باشد.

له استاد رباني او مولوي عطاء الله ...

تورن دي، چې که پر دوی دغه تورونه ثابت شي، نو د هيواد د اساسي قانون له مخې نشي کولای چې ځانونه ولسي جرګې ته کانديد کړي.

خو په افغانستان کې دلکونو بې ګناه کسانو له وژنې سره سره افغان دولت او نړيواله ټولنه تر دې دمه په دې نه دي توانيدلي چې په دې جنګي جنايتکاران د محاکمې ميز ته کش کړي.

ولايتي شورا له ولايتي اداري ...

خو دننګرهار ولايتي اداري بيا دولا... شورا له لوري لګيدلي ټول تورونه له يو... مخې بې اساسه وګڼل دننګرهار مرستيال والي ډاکتر محمدعلم اسحق زي خبريالانو ته وويل دوي دولايتي شورا سره په ټولو چارو کې همغږې دي او هيڅکله هم دشورا استازي له ځانه بيل نه بولي مرستيال والي وويل دې مني چې په څيني ادارو کې به ستونزې موجودې وي خو دده په وينا چې ټولې چارې بايد دتفاهم او خبرو اترو له لارې هوارې شي، خواوشاه يوه مياشت وړاندې هم دننګرهار ولايتي شورا پر ولايتي اداري سختې نيوکې کړې او ولايتي اداره يې له شورا سره دچارو په همغږه کولو تورنه کړې وه او دادې چې دا ځل يې ورسره اداري پريکون هم اعلان کړخودولايتي اداري له دريځ نه داسې ښکارې چې دولايتي شورا پر اندېښنو چنداني غوږ نه ږروي.

هيلري کلنټن: د پاکستان څينو ...

امريکا د هغوی د نيولو يا وژلو په لېوالتيا هيله منه ده.

نوموړې وايي، چې د فيصل شهزاد له پاکستاني طالبانو سره اړيکې شته او دا موضوع لا د پلټولو په حال کې ده.

هيلري وويل، چې د پاکستان لپاره زموږ پيغام څرګند دی او هغه دا چې زموږ و ستاسو دښمن شريک دی او اوس بايد د هغې له منځه وړلو لپاره جدي ګامونه پورته شي. امريکا اوس دا نشي زغملای، چې د ترهګرو مالي يا بل ډول مرسته وشي او هغوی دې ته وهڅول شي، چې پر امريکې بريد وکړي.

د هېواد په شمال کې به ...

مخکې هم په شمال کې ۳۰۰۰امريکايي سرتېري ځای پر ځای شوي وو .

بارلي سون له غونډې وروسته پژواک خبري اژانس ته وويل چې نوي رسېدونکي امريکايي سرتېري به په شمال کې د افغان ځواکونو د مسلکي زده کړو د ښوونې په موخه ځای پر ځای شي .

نوموړي زياته کړه چې دغه سرتېري به د چورلکو تر څنګ په نورو نظامي اسانتياوو هم سمبال وي، چې افغان ځواکونو ته به د پيلوټی په برخه کې هم زده کړې ور کړي .

جنرال سون وويل چې همداراز به امريکايي سرتېري په شمال کې د لوژستيکي اکمالاتو د خدمتونو په ترسره کولو کې هم له افغان ځواکونو سره مرسته وکړي .

د نوموړي په وينا، امريکايي ځواکونه شمال ته د افغان دولت په وړانديز راغلي دي .

د هغه په وينا، دوی هڅه کوي، چې له افغان ځواکونو سره د چارو په ترسره کولو کې همغږي ووسي .

جنرال مجتبی پتنګ په خبري ناسته کې د پژواک خبري اژانس د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل چې دوی په شمال کې د پوليسو مسلکي روزنې ته اړتيا لري .

نوموړي زياته کړه چې په شمال کې نږدې ۵۰۰۰ سرتېرو مسلکي روزنه ، نه ده ترسره کړې .

نوموړي وويل چې د سيمې د امنيت په موخه بايد بهرني او کورني ځواکونه سره همغږي ووسي .

د هغه په وينا، هڅه به وکړي ، چې د عملياتو پر وخت د خپلسرو تلاشيو مخه ونيسي.

سيلاب ها تا حال جان صد تن ...

تعداد زياد مواشي هلاک شده، خانه هاي مسکوني و زمين هاي زراعتي نيز تخريب گرديده است. همچنان، به دليل خراب شدن پل ها و راه هاي مواصلاتي، به بسياري ولسوالي ها دسترسي وجود ندارد و از ولايت هاي مرکزي گزارش شده است که مسافران در مسير راه ها، گير مانده اند. به اين دليل هنوز آمار دقيقي از تلفات و خسارات وجود ندارد.

ولايت هاي هرات، بادغيس، غور، دايکندي، باميان، تخار، بغلان، سمنگان، فارياب و بعض ديگر ولايت ها که به گفته ي جمعيت افغاني سره مياشت مجموعاً به شانزده ولايت مى رسد، از سيلاب هاي اخير خساره مند شده اند.

باوجود، اين هنوز کمک هاي کافي غذايي و غيرغذايي به آسيب ديدگان سيلاب ها نرسيده است. رياست مبارزه با حوادث مي گويد هفت گروپ کاري به شمول مؤسسات ملل متحد و نهادهاي غيردولتي، به ولايت هاي آسيب ديده رفته و بررسي هاي خود را آغاز کرده اند.

به گفته ي عبدالمتين ادراک، رييس اداره ي مبارزه با حوادث، بررسي آسيب ديدگان در ولايت هاي کشور جريان دارد و هنوز توزيع کمک ها شروع نشده است.

آقاي ادراک افزود، وزارت احيا و انکشاف دهات، که عضوي از کميته ي مبارزه با حوادث است، در تلاش پاک کاري راه هاي مسدود شده مي باشد.

ادراک مي گويد که بعد از بررسي، توزيع کمک ها به صورت عاجل شروع مي شود و تاحالا يک مقدار پول در اختيار واليان قرار گرفته تا کارهاي خود را همراي گروپ هاي کاري مبارزه با حوادث، به پيش ببرند.

در همين حال، مسدود شدن راه هاي مواصلاتي، رساندن کمک ها را دچار مشکل کرده است.

فاطمه گيلاني، رييس جمعيت هلال احمر افغاني مي گويد:«اين سيلاب هايي که پيهم بر بيشتر از شانزده ولايت آمده، اکثر راه ها را بسته کرده و همين حالا حتا بررسي در بعضي از اين ولسوالي ها، براي ما نه تنها مشکل است که حتا به ناممکن هم نزديک است.

رييس سره مياشت افغاني، که براساس تقسيم وظايف کميته مبارزه با حالات اضطرار، مسؤوليت رساندن کمک هاي غيرغذايي به آسيب ديدگان حوادث را دارا مي باشد، مي گويد: «قبل از اين که سيلاب ها بيايد و قبل از اين که زمستان شروع شود، ما پيش از پيش مواد غيرغذايي مثل خيمه، کمپل، ترپال، سامان آشپزخانه و ظرفي که آب را پاک کند، ما به تمام مراکز ولايت ها مي رسانيم. مشکل ما امسال اين بوده که از مرکز ولايت ها به ولسوالي ها رسيدن، يک کار فوق العاده سخت بوده است .

در همين حال، عبدالمتين ادراک مي گويد که حکومت به همکاري مؤسسات ملل متحد و نهادهاي غيردولتي توانايي کمک به آسيب ديدگان را دارا مي باشد، ولي رساندن اين کمک ها با مشکلات زيادي روبه رو است.

به گونه ي مثال، ادراک مي گويد که براي ۱۶۰۰ خانواده ولسوالي دره صوف ولايت سمنگان مواد غذايي آماده است. اين مواد در ايبک، مرکز ولايت سمنگان قرار دارد، ولي راه مواصلاتي با ولسوالي دره صوف، قطع شده و نمي توانند اين کمک را به مردم برسانند.

اوباما: پر حامد کرزي، د نيوکو پر ...

چې کولای شي دکابل او واشنګټن ترمنځ په اړيکو کې تاو تريخوالی له منځه يوسي، چې په تيرو مياشتو کې را پيدا شوی و.

خو بيا هم ويل کيږي، چې په شخصي ليدنه کتنه کې ښايي اوباما يو ځل بيا پر دې باندې ټينګار وکړي، چې کرزي بايد په خپله اداره کې د اختلاس او اداري فساد په له منځه وړلو کې ټينګ او عملي ګامونه واخلي.

له واشنګټن څخه د فرانس پرس خبري آژانس په يوه رپوټ کې ليکي، چې د متحده ايالاتو جمهور رئيس به د افغانستان مشر ته په دې سفر کې ټول هغه رسمي تشريفات وړاندې کړي چې له يوه دولتي مشر سره ښايي.

په دې سفر کې د سپينې مانۍ په بيضوي شکله خونه کې د دواړو هيوادونو له مشرانو او استازو مخامخ خبري اترې، ګډ مطبوعاتي کنفرانس او په سپينه مانۍ کې د غرمې ميلمستيا شامل دي.

د واشنګټن پوست ورځپاڼې د يکشنبې په ورځ کښلي، چې اوباما د خپلې بهرنۍ پاليسۍ سترو مشاورينو ته ويلي دي، چې په عامه تبصرو او يادونو کې د افغانستان له جمهور رئيس سره د درناوي وړ چلند وکړي.

د اوباما دا غوښتنه وروسته له هغه عنوانيږي، چې د متحده ايالاتو څينو لوړ پوړو چارواکوپه مطبوعاتو کې سختې نيوکې وکړې او حتي څو واري يې له دې څخه ډډه وکړه، چې کرزی د واشنګټن د همکار يا ملګري په توګه ياد کړي.